اروپايي ټولنه
د ټولټاکنو د څارني ماموريت
د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو
ټولټاکنې، کال ۲۰۰۹

اروپايي ټولنه افغانستان ته د ټولټاکنو د څارني لپاره يوه هيأت ليږي چې د اګست د مياشتې په شلمه نېټه به د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو له ټولټاکنو څخه څارنه وکړي. دا په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو د څارني دوهم ماموريت دی. د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو د څارني ماموريت په خپلو موندنوکې بې پرې دی او د چا پلوی نکوي.

## د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو د څارنې د ماموريت قيموميت

اروپايي ټولنه را وغوښتل شوه تر څو د راتلونکيو ټولټاکنو چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت او د ټولټاکنو د خپلواک کميسيون لخوا ترسره کيږي څارنه وکړي.

ددې ماموريت دنده داده چې د ټولټاکنو د بهير هر اړخيزه څېړنه وکړي چې تر کومې کچې نوموړې ټولټاکنې د ټولټاکنو د نړۍ والو معيارونو او کورنيو قوانينو سره سمون لري.

د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو د څارني ماموريت، په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د کميسيون له هيئت او د اروپايي ټولنې له غړيو هيوادو څخه خپلواکه دی.

د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو د څارني ماموريت په هغو تګلارو ولاړ دی چې د ټولې نړۍ د ټولټاکنو له څارنې سره سمون خوري. له کال ۲۰۰۰ څخه را وروسته اروپايي ټولنې د ټولټاکنو د څارنې ۷۰ ماموريتونه د نړۍ ۵۰ هيوادونو ته استولي دی.

د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو د څارني ماموريت چې کله له لاندې مواردو څخه څارنه کوي نو د ټولټاکنو په بهير کې لاسونه نه کوي:

- د قانون پولې او د هغه پلې کول
- د انتخاباتي اداري کړه وړه
- انتخاباتي هلې ځلې
- د مدني ټولنې او دولتي ادارو نقش
- د رسنيو فعاليت
- د رايو شمېرنه او د هغو جدول بندي
- د شکايتونو او استيناف بهير
- او هغه چاپيريال چې په هغه کې ټاکنې ترسره کيږي.

**د ټولټاکنو څار لاندې موخې لري:**

- **د ټاکنو په بهير کې د خلکو د باور پياوړتيا**
- **د درغليو مخنيوی**
- **د بشري حقونو او د قانون د نقش د درناوی پياوړتيا**
- **د شخړو په پېژندلو کې مرسته**

**لومړنۍ لاسته راوړنې به له ټولټاکنو وروسته ژر خپرې شي. او دوه مياشتې وروسته به يو هر اړخيز او وروستنی راپور خپور شي چې د راتلونکيو ټولټاکنو لپاره به وړانديزونه له ځانه سره ولري.**

---

## د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو د څارنې د ماموريت جوړښت

د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو د څارني د ماموريت مشري د څارونکيو د مشر ښاغلی فيليپ موغيون لخوا چې د اروپا د پارلمان يو غړی دی ترسره کيږي. چې د هغه پياوړی ژوند پانه د لاندې ټکيو لرونکې ده:



د څارونکيو رييس ښاغلی فيليپ موغيون

- د (۱۹۹۹- ۲۰۰۹) کلو تر منځ د اروپا د پارلمان غړی
- له افغانستان سره د اروپا د پارلمان د اړيکو د هيئت مرستيال
- د (۱۹۹۲- ۱۹۹۳) کلو تر منځ په بوسنيا کې د ملګرو ملتونو د ځواکونو بولندوی
- په ۲۰۰۵ کال کې د کانګو د اساسی قانون په هکله د ټولپوښتنو د څارني رييس
- په کال ۲۰۰۶ کې د کانګو هيواد د قانون جوړوني او جمهوري رياست د مقام د ټولټاکنو د څارني د اروپايي ماموريت مشر

دا ماموريت له ۲۵ هيوادونو څخه ۶۷ ارزوونکي او څارونکي لري چې افغانستان ته را لېږل شوی دی. ددوی هلې ځلې به د لنډې مودې په ۵۰ څارونکيو بشپړې شي چې د ټاکنو په ورځو کې به د ټاکنو د بهير او د رايو د شمېرلو لپاره را ولېږل شي.

---

## د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو د څارنې پس منظر

اروپايي ټولنه د ټولټاکنو د څارنې لپاره يوه جوړه کړې تګلاره لري. څارونکې د ټاکنو په بهير کې لاسوهنه نشي کولای او دا واک نلري چې کومه تېروتنه سمه او يا هغې ته بدلون ورکړي. د اروپايي ټولنې د ټاکنو ټول څارونکې د چلند تر داسې کلکو قوانينو لاندې دي چې د هغوی د بې پربوالي زمه وهي. د ټولټاکنو لپاره د اروپايي ټولنې د څارنې د ماموريت لګښت د اروپايي ټولنې د ولسواکۍ او بشري حقونو(اې.آی.ډي.ايچ.آر.) د ابتکار په اساس ورکول کيږي.

د اروپايي ټولنې د ټولټاکنو د څارني ماموريت د څارني پرمهال د څارنې له لاندنيو معيارونو څخه کار اخلي:

- د بې پرې والي کچه چې د ټولټاکنو د ادادې لخوا به و ټاکل شي
- د سياسي ګوندونو او کانديدانو ازادي چې وکړای شي غونډې ترسره کړي او خپل نظر څرګند کړي.
- د ټاکنو پرمهال دولتي سرچينو ته برابر لاسرسی
- د رای ورکونکيو د سلامتيا لپاره هر اړخيزې هلې ځلې
- رسنيو ته په تېره دولتي رسنيو ته د کانديدانو لاسرسی
- د ټاکنو تر سره کېدل او د رايو شمېرنه
- او همدارنګه نور مسايل چې د ټاکنو ډيموکراتيک چاپيريال اغېزمنوی (لکه د کمپاين د مهال تشدد، د قانون کردار او د هغه د پلي کېدو پولې)


د مطبوعاتي پوښتنو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکې ونيسئ:
+۹۳(۰)۷۰۶۲۲۱۳۶۳
+۹۳(۰)۷۰۶۲۲۱۳۶۴
بريښناليک: info@eueom-afghanistan.org

د لا ډېرو مالوماتو لپاره:
ويب پانه: www.eueom-afghanistan.org